# مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: وَاللَّاتِ وَالعُزَّى، فَلْيَقُلْ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ، فَلْيَتَصَدَّقْ». «څوک چې په لات او عزا قسم وخوري نو لا اله الا الله دې ووايي، او که څوک خپل ملګري ته ووايي چې راځه قمار بازي وکړو نو صدقه دې ورکړي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: وَاللَّاتِ وَالعُزَّى، فَلْيَقُلْ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ، فَلْيَتَصَدَّقْ». «څوک چې په لات او عزا قسم وخوري نو لا اله الا الله دې ووايي، او که څوک خپل ملګري ته ووايي چې راځه قمار بازي وکړو نو صدقه دې ورکړي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له الله تعالی پرته پر بل څه د قسم خوړلو په اړه خبرداری ورکړی؛ ځکه چې مؤمن یوازې په الله قسم کوي، او وايي چې څوک له الله پرته پر بل څه قسم وخوري د بېلګې په توګه: په لات او عُزا قسم وخوري - کوم چې دوه بُتان دي چې له اسلام څخه وړاندې یې په جاهلیت کې عبادت کېده، نو باید له خپل ځان سره ووايي چې: له الله پرته بل معبود نشته، نو پدې سره به له شرک څخه براءت وکړي او دا به یې د قسم کفاره شي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې څوک خپل ملګري ته ووايي چې: راځه قمار ووهو، او قمار دې ته وايي چې دوه یا څو کسان سره په پیسو قمار ووهي، نو چا چې جوار وګټله پیسې د همغه شوې، نو د دوی دواړو حالت لدې خالي ندی چې یا به ګټه کوي او یا تاوان-؛ نو ورته مستحب دي چې یو شی خیرات کړي تر څو یې قمار وهلو ته د یو بل بلنه وبخښل شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6379